
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم شپږمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۷مه | ٦١٨مه ګڼه

## څېره

۴ مخ

### برتولت برشت



برشت خلاق او نوښتګر هنرمند و. ده غوښتل چې اثار یې له عامو وګړو سره ژورې اړیکې ولري. هدف یې دا و چې ولسونه په خپلو حقونو پوه شي، د سیاسیونو په لوبو کې ډوب نه شي او په خپلو هېوادونو کې په رښتینې مانا ازاد ژوند ولري.

# پر افغانانو ناورین او د واشنګټن ټوکې؛

## ډونالډ ټرمپ: د افغانستان تېره نولس کلنه جګړه بې مانا او مسخره وه



۳

### د امریکا هوایي بریدونه، غبرګون او پایلې

۲ مخ

### هفتاد درصد از داروها، غیرقانونی وارد افغانستان می‌شود

۲ مخ

### آیا اسلام اروپا نیسي؟

۳ مخ

## کرنې ریاست: په کندهار کې د زعفرانو لس نندارېزې قطعې جوړېږي



کرنې وزارت وايي چې په کندهار کې د زعفرانو ۱۰ نندارېزې قطعې جوړوي چې هره نندارېزه قطعه یې په یوه جریب ځمکه کې جوړېږي او د هرې نندارېزې قطعې د جوړولو په پار ۵۰۰ کیلوګرامه د زعفرانو پیاز، کیمیاوي سره، تقویتي درمل او یو کرنیزه بسته وېشل شوې ده. د کندهار د کرنې ریاست وايي، چې کندهار د زعفرانو کرکېلې او تولید له پاره ښه مناسب اقلیم لري او په دغه ولایت کې د زعفرانو کرکېلې د کمیت او کیفیت له پلوه ښه نتیجه ورکړې ده.

په دې وروستیو کلونو کې د کندهار په ځینو سیمو کې د زعفرانو کرکېله ترویج شوې ده. د کندهار د کرنې ریاست هیله لري چې، ډېر ژر په دغه ولایت کې د زعفرانو کرکېله او تولید زیات شي. د یادونې ده چې هغو مخکښو بزګرانو ته چې ورته د زعفرانو نندارېزې قطعې جوړېږي، د کرنې وزارت د زعفرانو متخصصینو له لورې ورته د زعفرانو کرکېلې، حاصل ټولولو او پروسس په برخه کې عملي او نظري زده کړې هم ورکول کېږي.

## ملګري ملتونه: ښکېلې خواوې دې له کرونا سره د مبارزې په پار اوربند وکړي

ملګرو ملتونه وايي، په افغانستان کې د بشردوستانه اوربند ټینګښت به ټول پر دې برلاسي کړي چې د ګډ دښمن یعنې کوویډ-۱۹ پر ضد اغېزمنه مبارزه وکړي.

په کابل کې د دغه سازمان د استازولۍ دفتر یوناما پر ټویټر لیکلي چې بشردوستانه اوربند به له ژمي مخکې ټولو اړمنو افغانانو ته د مهمو بشري مرستو د رسېدو زمینه برابره کړي.

ملګرو ملتونو له دې مخکې هم په وار وار په افغانستان کې د جګړې له ښکېلو خواوو په تېره بیا طالبانو غوښتي چې بشردوستانه اوربند ته غاړه کېږدي.

سره له دې چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو د ټیمونو تر منځ خبرې روانې دي، خو په دغه هېواد کې جګړو زور اخیستی دی.

له دې وړاندې هم پر ملګرو ملتونو سربېره ګڼو نورو نړیوالو ادارو او هېوادونو د افغان جګړې له ښکېلو لورو غوښتي چې روان جګړه ختمه او ټولمنلی بشري اوربند رامنځته کړي.

خو د افغانانو او یادو سازمانو له مکررو غوښتنو سره سره، لاهم په افغانستان کې جګړې او نښتې په شدت سره روانې دي او هره ورځ لسګونو افغانانو ته پکې مرګ ژوبله اوړي. په ورته وخت کې په دوحه کې هم د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ د سولې خبرې پڅې روانې او تر اوسه پکې ښکاره پرمختګ نه ترسترګو کېږي، خو دواړو لورو وايي هڅه کوي چې د سولې اجنډا پر سر یوې هوکړې ته ورسېږي.

## له افغانستانه د امریکایي پوځیانو وتل به په سیمه کې ګواښونه رامنځته کړي



۵ مخ

## ولسي جرګه: مسئولان امنیتی در وظایف شان ناکام هستند و باید استعفا دهند



به دنبال حمله مرگ‌بار انتحاری به مرکز آموزشی کوثر دانش در غرب کابل، شماری از اعضای ولسی جرگه مسئولان امنیتی را به بی‌پروایی متهم کردند.

اعضای این جرگه در جلسه عمومی دیروز گفتند که مسئولان امنیتی در برابر این حمله سکوت کرده‌اند و باید استعفا دهند.

مهدی راسخ یکی از این نمایندگان گفت: «تکرار این‌گونه رویدادها نشان داد که مسئولان امنیتی ما در وظایف‌شان به صورت مطلق ناکام هستند. این ناکامی سبب قتل عام مردم می‌شود. این وظیفه خانه ملت است که آن‌ها را به خارنوالی معرفی کند تا از آن‌ها تحقیق شود.»


فدامحمد الفت صالح عضو دیگر مجلس با اشاره به تلفات نیروهای امنیتی در ولایت تخار، با انتقاد از حکومت، تاکید کرد که باید به تأمین امنیت مردم اولویت دهد.

آقای صالح می‌گوید: «حکومت مسئول تامین امنیت مردم است، اما بدبختانه که در حکومت افغانستان اطراف خود را با سنگ‌های سمنتی پوشانده و هیچ به فکر مردم نیست.»

نمایندگان مجلس این نگرانی را به دنبال حمله مرگ‌بار اخیر به مرکز آموزشی کوثر دانش در غرب کابل مطرح کردند. در این حمله انتحاری ۲۴ تن کشته و ٦٠ تن زخمی شدند.

در عین حال سخنگوی وزارت داخله در پاسخ به انتقاد اعضای ولسی جرگه به رادیو آزادی گفته است که این وزارت رویدادهای اخیر به خصوص حمله به مرکز آموزشی کوثر دانش را بررسی می کند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریـځ

## د امریکا هوايي بریدونه، غبرگون او پایلې

په هلمند، غزني او ځينو نورو سیمو کې له هوايي بریدونو وروسته امریکایي ځواکونو په وردگو کې هم هوايي برید کړی دی. امریکايي ځواکونه وايي چې برید یې پر طالبانو کړی او پينځه طالبان يې وژلي دي، خو سیمه‌ییز خلک او د وردگو د ولایتي شورا غړي بیا وايي چې په برید کې درې ماشومان شهیدان شوي دي. طالبانو پخوا دغو بریدونو ته په غبرگون کې دا چاره د دوحې د هوکړې نقض بللی و او ویلي یې وو چې د دغه ډول پېښو د تکرار د پايلو مسوولیت به د امریکایي اړخ پر غاړه وي. امریکایي ځواکونو د طالبانو دغو خبرو ته په غبرگون کې ویلي وو چې دا بریدونه د دوحې له هوکړې سره سم دي او دوی د افغان ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکوي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وروستي برید ته په غبرگون کې بیا هم ویلي چې امریکایانو د ملکیانو کورونه په نښه کړي او په دې توگه يې د دوحې له هوکړې سرغړونه کړې ده.

د دغو بریدونو دوام له دوو اړخونو د اندېښنې وړ دي. لومړی دا چې د بریدونو لویه برخه قربانیان بیا هم ملکي وگړي دي. پخوا هم د امریکا په هوايي بریدونو کې ډېر ملکي وگړي وژل شوي وو او که دا بریدونه دوام کوي، بیا به هم پکې ملکي وگړي وژل کېږي. له همدې امله خلک اندېښمن دي چې بېرته د بمباریو وخت ته ور ونه گرځي. دویم دا چې د دغو بریدونو دوام به د دوحې هوکړې ته زیان ورسوي. که څه هم تر اوسه پورې دغو بریدونو ته د طالبانو غبرگون د تمې خلاف ډېر نرم او سوړ دی، خو که دا بریدونه دوام کوي، طالبان به د خپلو جنگیالیو او خلکو تر فشار لاندې راشي او اړ به شي چې تر دې توند او جدي غبرگون وښيي. تر اوسه پورې خو طالبان یوازې دا چاره د دوحې د هوکړې سرغړونه گڼي، خو که دوام وکړي وروسته ښايي دوی هم د هوکړې د نقض گواښ وکړي او که خبره بیا هم حل نه شي، ښايي طالبان هم د دوحې هوکړه په عملي ډول نقض کړي، چې په دې سره به د اوسنۍ سولې بنسټ ولړزيږي. که څه هم نه امریکا او نه هم طالبان اوس دا غواړي چې د دوحې هوکړه له ستونزو سره مخ شي او یا هم د له منځه تلو له گواښ سره مخ شي، خو که د هوايي بریدونو مسئله همداسې دوام وکړي او یا تر دې زیاته شي، نو د دې شونتیا شته چې د دوحې هوکړې ته زیان ورسیږي.

د هوايي بریدونو مسئله باید جدي وگڼل شي. طالبان هم باید په دې اړه له امریکا سره جدي خبرې وکړي؛ ځکه چې دوام يې منفي پايلې لري. که طالبان د دوحې له هوکړې سرغړونه کوي او داسې څه کوي چې بیا امریکا د هوايي بریدونو حق پیدا کوي، نو پکار ده چې طالبان دا کار ودروي او که امریکا د دوحې د هوکړې خلاف هوايي بریدونه کوي، نو بیا باید دا بریدونه ونه کړي او پرې نه ږدي چې د دوحې هوکړه له ستونزو سره مخ شي او افغانستان بېرته د جگړې پخواني حالت ته ور وگرځي.

# هفتاد درصد از داروها

## غیرقانونی وارد افغانستان می‌شود

بی‌بی‌سی - فارسی

افغانستان سالانه بیش از ۹۰ درصد داروی مورد نیاز خود را به ارزش حدود ۵۰۰ میلیون دلار، از طریق واردات از کشورهای دیگر تامین می‌کند، مسئولان اتحادیه خدمات دارویی افغانستان می‌گویند که ۷۰ درصد از این داروها به شکل غیرقانونی به بازار داروی این کشور سرازیر می‌شوند.

وزارت صحت عامه افغانستان موضوع واردات غیرقانونی دارو را تایید می‌کند و می‌گوید قرار است برنامه‌ای با هدف جلوگیری از قاچاق دارو به اجرا گذاشته شود. ثبت نبودن یک شرکت تولید دارویی خاص، واردات داروهای خارج از فهرست ادویه مجاز، بروکراسی و فساد در ادارات و کسب رهایی از پرداخت محصول گمرکی از مهم‌ترین عوامل ورود ادویه به‌شکل قاچاق است.

وزارت صحت افغانستان اقلام داروهایی را که بدون پرداخت مالیات به شکل غیررسمی و بدون اخذ اجازه مقامات مسئول وارد بازار می‌شود، را غیرقانونی می‌نامد.

مسئولان اتحادیه خدمات دارویی افغانستان می‌گویند که واردات داروی قاچاق علاوه بر این‌که دست اندرکاران عرصه واردات دارو را متضرر می‌کند، سلامت مصرف کنندگان را نیز به خطر می‌اندازد.

کمال‌الدین کاکر، معاون اتحادیه صنعت دوایی (دارویی) و محصولات صحی افغانستان به بی‌بی‌سی گفت که در حال حاضر حدود ۱۵۰۰ شرکت عملاً به تورید دارو می‌پردازد. به گفته وی، هم اکنون تنها حدود ۳۰ درصد از داروهای موجود از طریق بنادر رسمی و پس از تایید وزارت صحت عامه وارد بازار دوایی می‌شود و مابقی داروها به دلیل بازبودن سرحدات کشور به شکل غیرقانونی وارد می‌شود.

او می‌گوید که فساد و بروکراسی موجود در ادارات باعث شده که برخی از شرکت‌ها و افراد قوانین را دور بزنند و دارو را به شکل قاچاق وارد کنند. معاون این اتحادیه افزود: «طی مراحل اسناد تورید دوا ماه‌ها طول می‌کشد و از آن جایی که بیشترین داروها تاریخ انقضای اندکی دارد، لذا واردکنندگان دوا ناگزیر می‌شوند به روش‌های غیرقانونی متوسل شوند.»

آن طوری که آقای کاکر توضیح می‌دهد افغانستان سال‌هاست که به واردات دارو متکی است و بیشتر داروهای مورد نیاز خود و تجهیزات صحی را از کشورهای هند، پاکستان، ایران، چین، ترکیه، امارات و برخی کشورهای اروپایی وارد می‌کند.

در کنار این، محدود بودن داروهای شامل در فهرست مجاز وزارت صحت عامه نیز زمینه را برای قاچاق دارو در افغانستان مساعد کرده است. ادویه مجاز به ادویه‌ای گفته می‌شود که اجازه تولید، تورید و استفاده آن در داخل کشور توسط وزارت صحت عامه داده شده باشد.

در فهرست داروهای مجاز وارداتی افغانستان بیش از ۲۸۰۰ قلم دوا شامل است. معاون اتحادیه صنعت دوایی و محصولات صحی افغانستان گفت که لیست داروهای مجاز خود یکی از مشکلات موجود است.

او افزود که بیشتر داروهای مورد نیاز بازار و بیماران در این فهرست شامل نیست و فهرست داروهای مجاز که باید هر چند ماه یک‌بار بازنگری شود، اما با گذشت چندین سال تا هنوز تجدید نشده است.

آن طوری که در ویبسایت اداره ملی تنظیم دوایی و محصولات صحی افغانستان آمده، فهرست ادویه مجاز در افغانستان، آخرین بار در سال ۱۳۹۷ مورد بازنگری و تجدید قرار گرفته است.

مسئولان می‌گویند که وجود تغییرات در روند درمان، شامل شدن ادویه مؤثر و جدید در درمان برخی بیماری‌ها، حذف برخی از داروها از ساحه طبابت نظر به عوارض جانبی شدید آن‌ها همه از دلایلی اند تا فهرست‌های ادویه اساسی و مجاز به صورت مداوم بازنگری شود.

آقای کاکر گفت که به دلیل تقاضای موجود در بازار، وارد کنندگان دوا ناگزیر می‌شوند داروهای مورد نیاز را به شکل غیرقانونی وارد کنند. «دواهای خارج از لیست مجاز از آن جایی که اجازه واردات قانونی را ندارد، لذا همه قاچاقی وارد می‌شود.»

او افزود که این موضوع بارها از سوی اتحادیه دوایی، شرکت‌های بزرگ تورید کننده دارو مطرح شده و طرح منع قاچاق ارایه شده اما این برنامه‌ها صرفا روی میز باقی مانده و در عمل کاری انجام نشده است.

اما محمدآصف یاری، رئیس انسجام خدمات قبل از مارکت اداره تنظیم ادویه و محصولات صحی افغانستان، واردات داروها را به شکل غیرقانونی از طریق مرزهای کشور تایید کرد و گفت:» این دواها عملا در بازار موجود است. این دواها به لحاظ کیفی مورد آزمایش قرار نمی‌گیرند. این یک مشکل جدی برای وزارت صحت عامه است.»

او در ادامه افزود که وزارت صحت عامه در قسمت استراتیژی جلوگیری از تورید ادویه قاچاقی کار کرده که در آن نهادهای امنیتی و وزارت دارایی افغانستان نیز نقش دارند، با عملی شدن این برنامه جلو واردات داروهای غیرقانونی گرفته خواهد شد.

وزارت صحت عامه تاکید کرد که دولت و سکتور خصوصی با همکاری همدیگر می‌توانند جلو قاچاق دوا و فروش دواهای بی‌کیفیت را در بازارها بگیرند.

آقای یاری گفت که از چندین سال به این سو ۱۵۰۸ شرکت از وزارت صحت عامه افغانستان، اجازه تورید دارو را گرفته‌اند اما از این میان در حال حاضر تنها ۳۷۵ شرکت عملا نزد این وزارت جواز فعالیت دارند و مابقی شرکت‌ها به دلیل عدم فعالیت، و سرپیچی از قوانین، جواز شان فسخ شده است. اما با این حال برخی از این شرکت‌ها کماکان فعال اند و به تورید دارو می‌پردازند.

آقای یاری افزود که داروهای وارداتی در صورتی که به شکل قانونی وارد شوند، پیش از ورود به بازار به لحاظ کیفی در آزمایشگاه‌های این وزارت مورد بررسی قرار می‌گیرند و در صورت مطلوب بودن کیفیت، داروهای یاد شده شامل مارکیت دوایی افغانستان می‌شود.

**ارزش بازار دارویی افغانستان**

اتحادیه خدمات دارویی و وزارت صحت عامه افغانستان، ارزش سالانه بازار دوایی و تجهیزات صحی این کشور را حدود ۶۵۰ میلیون دلار تخمین می‌زند. ۵۰۰ میلیون دلار از این میان سهم داروهای ورداتی است و متباقی این بازار در اختیار شرکت‌ها داروسازی داخلی، سازمان‌های غیردولتی و موسسات وارد کننده دارو قرار دارد.

آن طوری که وزارت صحت عامه می‌گوید در حال حاضر ۵۵ شرکت تولید دارو در افغانستان فعال است و حدود ۲۰۰ قلم ادویه را تولید می‌کند که شامل انواع آمپول، شربت، قرص (تابلیت) و کپسول می‌شود.

چندی پیش وزارت صحت عامه افغانستان اعلام کرد که این کشور در تولید ۱۵ قلم دوا به خودکفایی رسیده است. به همین دلیل شورای وزیران افغانستان نیز دستور داد که جلو واردات داروهای مشابهی که در داخل کشور تولید می‌شود گرفته شود.

با آنکه این محدودیت پابرجاست اما مسئولان شرکت‌های داروسازی می‌گویند که در حال حاضر هیچ نوع محدودیتی در برابر وردات این داروها وجود ندارد و مارکیت دارویی مملو از دواهای مشابهی داخلی است.

ببرک فهیم، مالک شرکت دارو سازی آسیا استار گفت که تولیدات آنان هنوز هم توان رقابت با داروهای خارجی را ندارد. او گفت که دواهای تولیدی داخلی به قیمت نسبتاً بلند تهیه می‌شود و از آن جایی که داروهای مشابه داخلی به بهای ارزان به بازار عرضه می‌شود، لذا محصولات شرکت‌های تولید دارو سازی داخلی کمتر به فروش می‌رسد.

او همچنین اضافه کرد که در حال حاضر هیچ نوع حمایتی از سوی دولت وجود ندارد:» مالیات بر وردات مواد خام نسبت به دواهای ورداتی بیشتر است. شرکت ما پنج خط تولیدی دارد و به دلیل کمبود و دیر رسیدن مواد خام، صرفا یک روز در هفته تولید داریم و متباقی روزهای بیکاریم.»

دولت اما می‌گوید که قرار است گام‌های به هدف قانونمند شدن بیشتر مارکیت دوایی برداشته شود. حدود پنج ماه قبل، شورای عالی اقتصادی افغانستان وزارت صحت عامه را موظف کرد که با تولید کنندگان عمده و معتبر دارو در جهان از جمله کشورهای هند و بریزیل صحبت کنند و داروهای مورد نیاز را به شکل منظم از این کشورها خریداری کنند.

این شورا به ایجاد داروخانه‌های زنجیره‌ای تاکید کرده که هدف آن استندرد ساختن و قانونمند شدن دارو خانه‌های این کشور خوانده شده است.

**مسکن‌ها پرمصرف‌ترین دارو در افغانستان**

مسئولان وزارت صحت عامه افغانستان و اتحادیه دوایی (دارویی) می‌گویند، ارزیابی‌های صورت گرفته نشان می‌دهد که در یکی دو سال اخیر، داروهای مسکن و ضد درد، بیشترین موارد مصرف را در بازار افغانستان داشته است. اما این مسئولان آماری مشخصی بدست نداد.

وزارت صحت عامه افغانستان گفته که نزدیک به ۵۰ درصد بیماران این کشور بدون مراجعه به داکتر، دارو مصرف می‌کنند که بیشتر این داروها انواع آنتی‌بیوتیک هستند. آنتی بیوتک‌ها، داروهای ضد درد، انتی اسید، مولتی ویتامین‌ها، از جمله داروهای پر مصرف در افغانستان است.

بیمارانی که بدون نسخه و مشوره دکتر دارو استفاده می‌کنند، شمارشان اندک نیست. یکی از آنها می‌گوید که دلیل این کار فقر است چرا که مردم قادر به پرداخت هزینه معاینات نیستند و از این طریق به خوددرمانی رو آورند.

## د دوحې له تړون سره سره، امریکايي ځواکونو په میدان وردگو کې پر طالبانو هوايي برید کړی

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لېگټ وايي، چې وړمه شپه يې د میدان ولایت په نرخ ولسوالۍ پر وسله والو طالبانو هوايي برید کړی دی. نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي چې یاد برید د امریکا او طالبانو د دوحې له تړون سره سم د افغان ځواکونو د دفاع لپاره تر سره شوی دی. نوموړي زیاته کړې چې په یاد هوايي برید کې پنځه وسله وال طالبان وژل شوي دي.

په ورته وخت کې وسله والو طالبانو بیا ویلي چې وړمه شپه د امریکايي ځواکونو د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د میدان ورگ ولایت د نرخ ولسوالۍ په درانې سیمه کې درې ماشومان وژل شوي دي. د



طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د یاد برید په تر سره کېدو سره امریکایي ځواکونه د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې تړون څخه په سرغړونې تورن کړي دي، خو په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو ویاند سوني لېگټ ویلي چې د یاد برید په ترسره کېدو سره د دوحې تړون او ملکیانو د وژل کېدو په اړه ادعاوې ردوي.

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې مېشتو امریکایي ځواکونو تر دې مخکې هم له افغان ځواکونو څخه د دفاع لپاره پر طالبانو هوايي بریدونه تر سره کړي دي، خو دا لومړی ځل دی چې د دوحې تر تړون وروسته امریکايي ځواکونو پخپلو هوايي بریدونو کې د طالبانو د وژل کېدو پخلی کوي. تر دې وړاندې امریکایي ځواکونو په هلمند او فراه ولایتونو کې هم پر طالبانو ورته بریدونه کړي وو چې طالبانو غندلي او هغه يې د دوحې تړون د نقض په مانا بللي دي. د طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي په هلمند کې د امریکايي ځواکونو تر هوايي بریدونو وروسته خبرداری ورکړ چې د امریکا دغه ډول اقدامات به ناوړه پایلې ولري.

د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون د روان کال په فبرورۍ میاشت کې لاسلیک شو چې له مخې یې پر یو او بل د برید نه کولو موافقه هم شوې وه.

# آیا اسلام اروپا نیسي؟

زاهد جلالي

ابن خلدون وايي، معمول دا دی چې هغه ملتونه چې برلاسي وي، پر مقهورو ملتونو یې د دین، فرهنګ او ادب تاثیرات لیدل کېږي. مات شوي او مستعمره شوي ملتونه پر ځان باور نه لري او ورځ په ورځ د برلاسي ملت تقليد کوي. په هر څه کې تقلید. په ژبه کې، په لباس کې، په ارزښتونو کې او د فکر په ډول کې.

پرون چې شورويان برلاسي وو، خلکو روسي ژبه زده کوله، د هغوی د فرهنګ او ارزښتونو زده کړه یې د «افغان وطنپرست آتشین» کېدو اصلي شرط باله، خو چې شوروي سقوط وکړ او امریکا راښکاره شوه، د انګلیسی کورس په هره کوڅه او پس کوڅه کې جوړ شو. اوس د انګلیسی ادب او غربي فرهنګ وخت دی. موډونه هلته جوړېږي او دلته یې تقليد کېږي. دا طبیعي ده؛ ځکه د زورور سړي هر څه خلکو ته ښه ښکاري. مېډيا له هغوی سره ده، پیسې له هغوی سره دي، زور ورسره دی، ټکنالوژي او هر څه ورسره دي، خو په معاصر تاریخ کې یو څه عجیب دي. هغه په غرب کې اسلام دی. نه یوازې په معاصر تاریخ کې اسلام پر واکمن ځان منلی، بلکې پخوا هم دا کار شوی دی. پخوا هم اسلامي تمدن د خپل منطق او روحانیت په زور دغه عادت چلېنج کړی دی. کله چې په ۱۳مه میلادي پېړۍ کې چنګېز خان او بیا یې اولادې اسلامي نړۍ ونیوله، سخت قتل او قتال یې وکړ، خو کله چې بېرته دوی خپلو کورونو ته ستنېدل، مسلمانان وو. دا ډېره عجیبه ده چې برلاسی دې د کمزوري او مقهور ملت منطق ومني، خو په اسلامي تمدن کې همداسې شوي او تر نن پورې د چنګېز خان په لمسیانو کې مسلمانان شته.

اسلام په اوسني عصر کې خپله واکمني نه لري، زور نه لري، زر نه لري، مېډیا ورسره نه شته او په ټوله کې مظلوم دی. د اسلامي خلافت له سقوط نه وروسته د انحطاط دوره رسماً شروع شوه، خو بیا هم اسلامي فرهنګ په نورو فرهنګونو تاثیر لري. په اروپا کې اسلاموفوبیا یا له اسلام څخه خلک وېرول او منفي تصویر وړاندې کول ښه په شدت او قوت سره له ډېره وخته را په دې خوا فعالیت کوي، خو بیا هم اسلام په همدومره شدت سره هلته خپرېږي. او جالبه بیا دا ده چې د هغوی فیلسوفان، د پوهنتون استادان، هنرمندان او عموماً روشنفکره طبقه مسلمانېږي.

دغه خطر ځینو مستشرقینو درک کړی و. برنارډ لېوېس لسیزې وړاندې دغه اندېښنه څرګنده کړې وه او په یوه مقاله کې یې چې سرلیک یې «اسلام اروپا نیسي» و، له دغه خطر څخه وېره څرګنده کړې ده. دغه راز له جیروسېلم پوسټ اسراييلي رسنۍ سره په مرکه کې چې په ۲۰۰۷م کال کې ترسره شوې، دی وایي چې ډېر ژر ده چې اروپا اسلامي شي، یا اسلام اروپايي شي. په دې مرکه کې لېوېس ډېر اندېښمن ښکاري او وايي چې اروپا پر خپل ځان باور له لاسه ورکړی دی او اسلام ته تسلیم شوې ده. ډېر نور متعصب لیکوال، مخصوصاً یهودان له دې اندېښنه لري.

دا چې په اروپا کې اسلام او مسلمانانو ته نسبتاً آزادي ورکړل شوې وه، د دې لامل د لېبرالېزم ارزښتونه نه دي. د بیان آزادي یا د نظر څرګندولو آزادي دومره مهم ارزښت نه دی چې دوی دې د ځان په قربانۍ له دې تېر شي. حقیقت دا دی چې د دوی باور دا و، چې ماډرن دونیا موږ جوړه کړې، ټکنالوژي زموږ سره ده، پیسې موږ لرو، قدرت موږ لرو، فلمونه موږ جوړوو او مېډیا زموږ په اختیار کې ده، نو طبیعي ده چې زموږ ارزښتونه به خلک مني. د دوی خیال دا و چې د دوی د بیان آزادي به د دوی په ګټه تمامېږي، چې تر یوه حده همداسې شوې ده.

خو د اسلام د منطق لوړوالی او له انساني طبیعت سره یې اړخ لګول دوی له پامه غورځولي وو. دوی دا هم له پامه غورځولي وو چې ماډرن او له خدای څخه پرې شوی اروپايي انسان معنویاتو ته ضرورت لري. هغه خدای ته ضرورت لري، نبي ته ضرورت لري او د معنوي اړیکې شتون ته ضرورت لري او اسلام د دې تشې د ډکولو لپاره تر ټولو ښه حل دی.

همدا ده چې اسلام په اروپا کې ریښې وکړې او د دوی معادله سرچپه شوه. په اروپا کې ستر فیلسوفان لکه روجې ګارودې، رېنې ګیونې، فرېتهوف شوون او نور مسلمانان شول. دغه راز په دغو کې چې مسلمانان شول، مشهور دېپلومانان لکه مراد هوفمان، ژورنالېستان لکه د نیویارک ټایمز ژورنالېست چې محمد اسد ونومول شو... او زښت ډېر فلمي اداکاران، هنرمندان او نور روشنفکران شته دي او ډېره برخه یې فرانسویان هم دي. دا هغه څه دي چې اروپایان یې وارخطا کړي. دوی ورو ورو پوهېږي چې یوازې موږ نه وو چې لېبرال افکار مو دوی ته تزریق کول، بلکې دوی هم زموږ د ټولنې مهمه برخه یرغمل کړې ده.

همدا ده چې د اسلام پر وړاندې د دوی چلن بدل شوی او ورو ورو به نور هم بدلېږي. اسلاموفوبیا، یا له اسلام څخه د خلکو وېرول او له اسلام څخه ټولنې ته منفي تصویر وړاندې کول، که څه هم له پخوا روان وو، خو اوس به لا هم قوي کېږي. نه یوازې دا چې د اسلام پر وړاندې به له مېډیا څخه کار اخیستل کېږي، بلکې وزارت داخله او استخبارات به هم په دغه کار کې برخه اخلي. یوازې په روان کال کې تر درې سوو ډېر مسجدونه په فرانسه کې په یوه او بل نامه وتړل شول او څو اویا جوماتونه په څو ورځو کې وتړل شول. دغه راز په اتریش کې، په یونان کې او نورو هېوادونو کې دغه کار روان دی.

کله چې اروپایان احساسوي چې د دوی ارزښتونه له طبیعي لارې چلېنج شوي او ځواب نه لري، بیا له زور څخه هم کار اخلي او د دې کار مخه به نیسي. کله چې کمونېزم په شدت خپرېده، هغه مهال هم دوی د کمونېزم له وېرې ډېر داسې کارونه وکړل چې د لېبرالېزم د اصولو خلاف وو او اوس به د اسلام پر وړاندې دا کار کوي؛ ځکه اسلام د منطق له لحاظه او د اروپا اوسنۍ فکري او روحاني ستونزې ته تر ټولو ښې حللارې او نسخې لري.

# پر افغانانو ناورین او د واشنګټن ټوکې؛

## ډونالډ ټرمپ: د افغانستان تېره نولس کلنه جګړه بې مانا او مسخره وه



د امریکا ولسمشر د افغان جګړې په تړاو د خپلو څرګندونو په دوام تازه ویلي چې په افغانستان کې د امریکا جګړه بې مانا او مسخره وه. ټرمپ پرون د خپلو پلویانو یوې غونډې ته دا خبره کړې او ټینګار یې کړی چې ژر به له افغانستان خپل سرتېري وباسي. ټرمپ همدا راز ویلي چې دغه جګړه د تېرو حکومتونو د تېروتنې له امله رامنځ ته شوې او اوسنی سیال یې جو بایډن هم پکې ښکېل دی. هغه زیاته کړې چې تېرو حکومتونو د تېروتنو د پټولو لپاره نورې تېروتنې هم کړې دي چې دی یې نه تکراروي.

د امریکا ولسمشر چې په ځلونو یې په افغانستان کې د امریکا پیل کړې جګړه بې مانا بللې، اوس یو ځل بیا ټینګار کړی چې دغه جګړه تشې مسخرې وه. د ده په خبره، د افغانستان جګړې د امریکا لپاره هېڅ ګټه نه لرله، خو هر کال د امریکایانو میلیاردونه ډالر په دغه جګړه لګېدلي دي. د ده په وینا: ((ستاسې پیسې، ستاسې وینې، پوهېږئ ستاسې وینې په افغانستان کې تویې شوې. د بې مانا جګړې لپاره. هغه څه چې تاسې ګټل هغه په افغانستان کې لګول کېدل)).

ټرمپ همدا راز ویلي چې په افغانستان کې د امریکا ۱۹ کلنه جګړه هسې مسخره وه او د واشنګټن لپاره یې هېڅ ګټه نه لرله. د ده په خبره، له افغانستانه د خپلو سرتېرو ایستلو ته ژمن دی او تر دې دمه یې زرګونه سرتېري ایستلي دي. ټرمپ زیاته کړې: ((پوهېږئ دا مسخره جګړه وه. زموږ لپاره یې هېڅ ګټه نه لرله، خو زموږ سرتېري هلته جنګېدل. دا مسخره وه، اوس خپل سرتېري له دغه بې مانا جګړو وباسم)).

نوموړي د امریکا د تېر حکومت چارواکي هم په کم کارۍ او ناکامۍ تورن کړي دي او په خبره یې، د دوی د تېروتنو له امله زرګونه امریکایان په افغانستان کې وژل شوي او میلیاردونه ډالر لګول شوي دي. ټرمپ یې اوسنی سیال جوبایډن هم د دې تېروتو کسانو له ډلې ګڼلی او په خبره یې، دغه کسان د تېروتنو د پټولو لپاره نورې تېروتنې کوي. د ده په باور: ((دغه کسانو څه کول په خپلو تېروتنو یې سرپوښ ایښود. پوهېږئ سرپوښ څه مانا؟ یعنې په تېروتنو یې خپلې تېروتنې پټولې. زموږ پیسې او وینې یې دومره لرې ځای لګولې)).

ټرمپ تر دې وړاندې هم په ځلونو په افغانستان کې د امریکا جګړه بې مانا بللې او ببره یې کړې چې څومره ژر وکولی شي له دغه هېواده خپل سرتېري وباسي. بلخوا بیا نړیوالې رسنۍ د افغانستان په اړه د امریکا سیاستونه ناکام او مقطعه‌یي بولي. دې هېل نشریې په تازه خپاره کړي مطلب کې ویلي چې امریکا هېڅ وخت د افغانستان په اړه ثابته تګلاره نه لاره او لنډمهاله پلانونو یې په افغانستان کې جګړې اوږدې کړې. سرچینه کاږي: ((امریکا کله سرتېري ډېر کړي، کله یې کم کړي، کله یې د بشپړو ایستلو ګواښ کړی دی، چې له دې هر څه سره دوی په دغه هېواد کې د جګړې پر ختمولو نه دي بریالي شوي)).

دې هېل نشریه د سولې په اړه هم د امریکا تګلاره ناکامه او له خنډونو ډکه بولي او په خبره یې، ټرمپ یوازې د خپلو سرتېرو د ایستلو لپاره د افغانستان د راتلونکې په اړه هېڅ راز فکر نه دی کړی. سرچینه کاږي چې د طالبانو تګلاره او مفکوره ټولې نړۍ ته معلومه ده، نو پر دغه ډله د امریکا دومره بېړنی باور د حیرانتیا وړ دی. سرچینه وايي، په افغانستان کې د ثبات راوستو او بهرنیو سرتېرو د ایستلو لار دا وه چې په دغه هېواد کې د یوه پیاوړي مرکزي حکومت هر اړخیز ملاتړ شوی وی. سرچینه کاږي: ((په دغه هېواد کې دې پیاوړی حکومت جوړ شي. له فساد سره دې د مبارزې لپاره فشار ورباندې راوستل شي. د امنیتي او دفاعي ځواکونو هر اړخیز ملاتړ دې وشي)).

ټرمپ داسې مهال دغه جګړه بې مانا بولي چې امریکا پوره ۱۹ کاله پر افغانانو څمکه سور تبخی کړې او له هرې افغان کورنۍ د امریکا پیل کړې جګړه تلفات اخلي. هره ورځ زرګونه افغانان بې کوره کېږي او لا هم د دې هېل نشریې په خبره، د امریکا ناکام پلانونه په افغانستان کې د جګړو د کمېدو سبب نه دي شوي.

# راپورونه: د اذربایجان او ارمانیا ترمنځ څلورم اوربند هم مات شو او د دواړو خواوو ترمنځ نښتې پیل شوې

په داسې حال کې چې د امریکا ولسمشر دونالډ ټرمپ وړمه شپه اعلان وکړ چې د واشنګټن په منځګړیتوب اذربایجان او ارمنستان اوربند وکړ، خو له دغه اعلان څخه څو ساعته وروسته بیا جګړې پیل شوې دي.

دواړه هېوادونه یو بل تورنوي چې اوربند یې مات کړی دی. دواړه غاړې د ناګورنو قره باغ د غرنۍ سیمې د مالکیت دعوې لري او له شاوخوا څلورو اونیو راهیسې جګړه روانه ده چې تر دې مهاله پکې سلګونه کسان وژل شوي او ژوبل شوي دي.

د اذربایجان د بهرنیو چارو وزیر له وروستي اوربند وروسته اعلان وکړ چې د ارمنستان ځواکونو اوربند مات کړی او د «ترتر» او لاچین» په سیمو یې توغندي توغولي دي، خو د ارمنستان د دفاع وزارت بیا اذربایجان د اوربند په ماتولو تورن کړی او ویلي دي چې د هغوی پر سیمو یې توغندي ویشتلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د اذربایجان او ارمنستان حکومتونو وړمه ورځ په یوې ګډې اعلامیې کې د بشري اوربند اعلان وکړ.

د امریکا ولسمشر دونالډ ټرمپ له دغه اعلان وروسته پر خپل ټویټر ولیکل: «د ارمنستان صدراعظم نېکول پاشینیان او د اذربایجان ولسمشر الهام علییوف ته دې مبارک وي چې پر اوربند یې موافقه وکړه، اوربند به له نیمې شپې پیلېږي. د ډېرو ژوند به وژغورل شي.»

له دې سره هممهاله د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم پر خپل ټویټر کې ولیکل چې امریکا د دواړو خواوو ترمنځ سختو مذاکراتو ته زمینه برابره کړه او په خبره یې، دواړو خواوو ومنله چې اوربند به کوي.

د اوربند په تړاو دا پرمختګونه داسې مهال دي چې څو ورځې مخکې د روسیې ولسمشر ویلادیمیر پوتین ووېل چې شاید د دې جګړې له پیل راهیسې ۵۰۰۰ کسان وژل شوي وي. ترکیې بیا ویلي وو، که اذربایجان ترې مرسته وغواړي، چمتو ده سرتېري ور واستوي. ترکیه په دغې جګړې کې د اذربایجان ننګه کوي، خو امریکا په نورو هېوادونو غږ کړی چې په دغه اور دې نور تیل نه پاشي.


د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د ملګرو ملتونو، امریکا، روسیې او نورو هېوادونو په منځګړیتوب د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ درې ځله اوربند وشو، خو له دا اوربند له څنډ پرته بېرته مات شو او دواړو خواوو یو او بل د اوربند پر نقض تورن کړي دي. ناګورنو قره باغ سیمه په اذربایجان کې موقعیت لري، خو دا چې ډېری وګړي یې ارمنیان دي، د ارمنستان له خوا اداره کېږي. دواړو هېوادونو د یادې سیمې د مالکیت پر سر څو ځله درنې جګړې هم کړې دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د استخباراتو تصادفي مشر




دولت: ښايي له دې کبله چې دا پېښه په ممبيي کې واقع شوې وه، زموږ لپاره يې حل کول تر دې چې په ډيلي کې واقع شوې واى، آسانه وو. جنرال صېب فوق العاده وارخطا و او په تکرار يې پوښتنه کوله چې د عثمان لپاره په ممبيي کې پاتې کېدل خوندي دي او که بايد بېرته کوچې ته ستون شي. ما ورته وويل چې دا منو موږ څه نه شو کولی، خو يو څه به وکړو، دا يوه کوچنۍ موضوع ده. راځئ چې کار ورباندې وکړو، سره له دې چې ما فکر نه کاوه جنرال صېب به په آرامۍ ويده شي.

ما دغه راز په RAW کې له خپل يوه پخواني همکار سره خبرې وکړې او زه ډاډه يم چې هغه له دې پرته چې امتياز يې واخلي، مرسته وکړه. تر دې هم مهمه دا وه چې په (۲۰۰۳. ز)کال کې د RAW معلوماتو له ISI سره مرسته وکړه چې د جنرال مشرف ژوند خوندي کړي.

دوراني: عثمان په يوه دفتر کې له دربيو تر څلورو ساعتونو بند و، هلته چې هېچا هم نه غوښتل د هغه کار خلاص کړي. دا د دې سيمې يو له بيروکراسۍ ډک معمولي دفتر و چې هر ځل به ده ويل، چې زه دغه ښاغلي ته رالېږل شوى يم، هغوى به ورته ويل چې هغه خو يې پر خپل ځاى نه شته. دوه ځله داسې پېښ شول چې عثمان هغوى ته د يوه کس نوم واخيست، خو هغوى ويل چې نه شته. زه دغه مهال له عثمان سره پر ټليفون غږېدم او ورته ومې ويل، ظاهراً دوى نه غواړي له تا سره مرسته وکړي.

موږ په غم کې وو، ځکه نه پوهېدو چې څه به پېښېږي. خو حتى همدې کسانو هم ده ته نه وو ويلي چې ته د ممبيي وېزه نه لرې، ويې نيسئ او بندي يې کړئ. دا پېښېدلی شواى، خو داسې ونه شول.

په دغه بهير کې ما او مېرمنې مې بله اندېښنه درلوده، که چا راپور ورکړى وي چې د ISI د پخواني مشر زوى عثمان په ممبيي کې ګرځي، چېرته چې (۲۶/۱۱) پېښه لا هم نه وه هېره شوې، هغه هم په داسې حال کې چې د دغه ښار وېزه نه لري؟ حتى ټکسي چلوونکی پوهېده چې څه پېښېدل، ځکه هغه د څلورو ساعتونو لپاره د عثمان له لګېج سره د باندې منتظر و. د توکو يوه لېږدوونکي مشوره ورکړې وه چې بېرته کوچې ته ستون شي.

دولت: په سبايې جنرال شېږ يا اووه ځله زنګ راته وواهه او هر ځل به يې يوه خبره کوله: بېرته يې کوچې ته ولېږم؟ ما ورته وويل: زموږ هلکان هڅه کوي، ان شاالله تر ماښامه به له ممبيي څخه پرواز وکړي. ته پر الله باور لرې او زه پر ( واهيګورو) هر څه به سم شي.

کله چې ورځ تېره شوه، شيان يې د ممبيي د پوليسو په ځانګړې څانګه کې بند وو او ورځ هم شنبې وه، نو د رخصتۍ له کبله دفترونه تړلي وو. په استخباراتي بيرو کې پخوانی ملګرى (جيون وېرکار) را په ياد شو. ما د ممبيي د پوليسو کمېشنر پېژانده، خو هغه زړه اړيکه وه او له ډېر وخت راهيسې نه وو سره په تماس کې شوي، خو له جيون سره مې بيا معمولاً کتل. موږ د يوې ټولنيزې کړۍ غړي وو، له همدې کبله مې ملګرى و. ما جيون ته زنګ وواهه او ورته ومې ويل چې وروره داسې کيسه ده.

تصادف جيون له جنرال صېب سره کتلي وو، ځکه هغه د (Track-II) په څو ناستو کې ګډون کړى و. هغه ژمنه وکړه چې دا ستونزه به حل کړي.

دوراني: په دې جريان کې ځينې داسې پېښې وشوې چې يوازې دې ځوان نسل حل کولی شواى. د بېلګې په توګه، کله چې عثمان مخکې هڅه کړې وه چې الوتکه کې سپور شي، خو مخه يې نيوله شوې وه، د کډوالۍ د برخې يوه کارکوونکي پوښتنه ترې کړې وه: موږ څنګه پوه شو چې ته کوچې ته څه وخت تللی يې؟ ته ښايي بيخي کوچې ته نه وې تللی!

عثمان ژر په خپل ټليفون کې د کوچې د پوليسو د راجستر اړوند معلومات ډانلوډ کړي وو. د جيون تر مداخلې وروسته د دفتر مشره راغلې وه او هغه کارکوونکي چې مرسته يې نه کوله مجبور کړي وو، چې عثمان ته د اړتيا وړ اسناد ورکړي.

په کابين کې ناست کس عثمان ته ويلي وو، چې غواړي په کوم پرواز کې مونيخ ته لاړ شي. ده تر دغه مهاله ټکټ هم نه و کړى، نو سملاسي لاړ او د (Lufthana) د وېبپاڼې له لارې يې د راتلونکي پرواز لپاره ټکټ واخيست. وروسته يې هغوى ته ټکټ وښود او قانع شول.

د هغه انټرنېټي پوهه، بخت، د دولت او نورو مرسته وه چې نوموړى يې له دې ستونزې و ايستلو. د (۲۴)ساعتونو لپاره هغه پر ټليفون خبرې کولې او هغه څه چې ناشوني اعلان شوي وو، د ده لپاره ممکن شول.

سېنها: په استخباراتي بيرو کې د RAW د يوه پخواني مشر شاليد د ISI له يوه پخواني مشر سره مرسته وکړه.

دوراني: له دې پېښې وروسته د هغه کمپنۍ ټينګار وکړ، چې بايد د جرمني پاسپورټ واخلي. دوى ويل موږ له تا غواړو چې د جرمني تابعيت واخلې، نو له ټولو هغو محدوديتونو به خلاص شي چې په هند کې پاکستانيان ورسره مخ دي. ته د پلار د ملګري په مرسته وژغورل شوې، که نه اوس به په لويه ستونزه کې ګير وې. تصور وکړه، په ممبيي کې، هغه هم تر (۲۰۰۸. ز) کال وروسته، يو داسې پاکستانی چې پلار يې د ISI پخوانی مشر دی. دوى ښايي ويلي وي:( څه يو ښکار په لاس راغلی.)

**دوام لري...**

# برتولت برشت

شفيق اميرزى



برتولت برشت په المان کې مشهور ليکوال دی، چې د بشري ژوند د ښه والي او پرمختګ لپاره يې اثار پنځولي دي. هغه انسانپاله فکر درلود او تر نن پورې يې خلک د انسان دوستۍ او ښه ژوند په اړه واړه واړه نقل قولونه په ورځپاڼو، مجلو او ورځنيو چارو کې کاروي. هغه په تياتر او ننداړو کې نوښتونه راوستل. دې هنر ته يې خلک راکاږل او د خپل همدې هنر په مرسته يې لسګونه کسان پر تياتر او ډرامو رامات کړل. ده به ويل ننداره او تمثيل بايد په انسان کې د ننه يو تحرک رامنځ ته کړي، په هغه کې پوهاوى ډېر کړي، د هغه فکر پراخ کړي او ژوند ته يې وهڅوي.

برتولت برشت چې مکمل نوم يې اويګن برتولت فريدريش برشت دی (Eugen Berthold Friedrich Brecht)، د ۱۸۹۸ز کال د فبرورۍ په لسمه د آلمان په اګسبورګ کې دې نړۍ ته راغلی دی.

برشت چې کله له ښوونځي فارغ شو، نو په ۱۹۱۷ز کال کې يې په مونيخ پوهنتون کې د فلسفې زده کړه پيل کړه. لږ موده يې دا رشته ولوسته، خو بېرته پښېمانه شو او په طب کې يې زده کړو ته مخه کړه. وروسته په المان کې ګډوډې راغله او د ۱۹۱۸ز کال په انقلابي اړودوړ کې اړ شو چې له زده کړو لاس په سر شي. له همدې ځايه اړ شو چې زده کړو ته څټ کړي او د سرتېري په توګه دنده تر سره کړي.

هغه ناڅاپه د ننداړو او ډرامو په ګرم بازار کې مشهور شو. په ۱۹۲۲ او ۱۹۲۳ز کال کې يې دوې ننداړې وليکلې او د نندارچيانو له هرکلي سره مخ شوې. يوه يې وزر او بله د ډولونو غږ نومېده. دا ننداړې په لايبزيګ او مونيخ کې ننداړې ته وړاندې شوې. نه يوازې د نندارچيانو؛ بلکې د نقادانو له هرکلي سره هم مخ شوې او برشت ته يې د شهرت ور پرانيست. هغه له دې وروسته د ډرامه ليکوال په نامه مشهور شو. همدا بريا د دې سبب شوه چې برشت د مونيخ له تياتر سره د همکارۍ يو قرارداد لاسليک کړي. تر قرارداد وروسته برشت د دې پرېکړه وکړه چې خپل استعداد به پالي او په دې مرکز کې به ننداړې او ډرامې ليکي.

برشت څو دورې برلين ته راغلی، خو په ۱۹۲۴ز کال کې يې پرېکړه وکړه چې له دې وروسته به په برلين کې اوسي. دلته را وکوچيد او بيا د ښار په اصلي تياتر کې د ماکس راينهارد تر رياست لاندې په دنده وګومارل شو. ده د تياتر د لارښود، ليکوال او ازاد همکار په توګه دنده تر سره کوله. همدا مهال و چې هڅه يې کوله په خپل مسلک کې ځان ورسوي. ده غوښتل ځان ته يو ځانګړی سبک ولري او له همدې امله يې بېلې لارې او لورې و ازمويل. هغه ډول ډول ننداړې ليکلې او هدف يې دا و چې يو ځانګړی سبک او مشخص فکر انتقال کړي. هغه د خپل وخت له مارکسيست مشرانو او هنرمندانو سره ډېرې نږدې اړيکې لرلې. له دوى سره يې نظريات تبادله کول. دوى له همدې ځايه د روايي ديالکتيکي تياتر پر رامنځ ته کولو لاس پورې کړ. په همدې لړ کې يې په ۱۹۲۸ز کال کې د موسيقۍ له پارچو سره يوه ننداره خلکو ته وړاندې کړه. د معلوماتو له مخې دا ډرامه په المان کې په ۱۹۳۳ز کال کې دومره مشهوره وه چې ۲۵۰ ځله ننداړې ته وړاندې کړل شوه.

د نشنل سوسياليزم په رامنځ ته کېدو سره د برشت د ګډوډۍ او کډوالۍ موده هم پيل شوه. په رايشستاګ کې تر يوې اورلګېدنې وروسته چې نشنل سوسيالستانو د خپلو فکري مخالفينو د ځپلو لپاره رامنځ ته کړې وه، برشت له خپلې کورنۍ سره د تېښتې پرېکړه وکړه. هغه له کورنۍ سره له برلين وتښتېد او د پراګ، وين، زوريخ او پاريس له لارې يې په پاى کې ځان ډنمارک ته ورساوه. په دې چاپېريال کې په وخت تېرولو سره د هغه خلاقيت ډېر شو او د اثارو په پنځونه کې يې خورا اغېزناک تمام شو. د ۱۹۳۴ او ۱۹۳۹ کلونو تر منځ يې ډېر طنزونه، شعرونه، قطعې او نورې ليکنې الماني ژبو راډيوګانو ته لېږلې. د ازادۍ په اړه يې ليکنې کولې، د بشريت د ارامۍ په اړه يې ليکل کول او د دې تر څنګ يې د چپيانو په لارښوونه او ملاتړ د مهاجرت مجله هم چلوله.

کله چې دويمه نړيواله جګړه پيلېږي، نو په دې جګړه کې ډېرو کسانو ته د سر خطر وي، چې برشت هم په دې ډله کې دی. هغه د ځان د ساتنې هڅه کوي او د خپلې هستوګنې ځاى بدلوي. برشت ستاکهلم ته راځي، خو په ۱۹۴۰ز کال کې يې هلته هم ګزاره سختېږي او اړ کېږي چې د ځان د خوندي کولو لپاره هلسينګي ته وتښتي. بيا مسکو ته وتښتېد او له مسکو همداسې د امريکا کليفورنيا ته لاړ.

په ۱۹۴۷ز کال کې د امريکايي ضد فعاليتونو د مخنيوي کمېټه برتولت بريشت احضاروي. پر هغه تور پورې کوي چې د کمونيستي افکارو د خپرولو لپاره کار کوي او په همدې تړاو ترې پوښتنې ګروېږنې کوي. دا مسئله برشت ځوروي او پرېکړه کوي چې له امريکا ووځي. همدا چې د احضار کيسه ختمېږي، يوه ورځ وروسته برشت له امريکا کډه باروي او له دغه هېواد وځي او زوريخ ته ځان رسوي.

تر دې وروسته يې لومړى د اتريش له دولت د تابعيت غوښتنه وکړه؛ خو د المان غرب ته پر ده د ننوتو بنديز لا هم پر خپل ځاى و. څه موده وروسته د المان د ختيځ فرهنګي اتحاديه له ده غوښتي چې شرقي برلين ته ورشي او هلته استوګن شي. دى يې وړاندېز مني او په شرقي برلين کې ژوند پيلوي. په همدې ځاى کې د عمر تر پايه ژوند کوي. په ۱۹۵٦ز کال کې يې بېرته د تياتر په کارونو پيل وکړ. د کارونو تر څنګ يې د شرقي المان پر کمونيستو رهبرانو خپلو نيوکو ته هم ادامه ورکوله او په مستقلانه توګه يې د دوى نظريات او کړنې غندلې.

برتولت برشت تر ډېره د مشهورو ډرامو او ننداړو د ليکلو له امله شهرت لري؛ خو هغه نه يوازې دا چې تکړه ننداره ليکوال و، بلکې د لوړ ذوق لرونکی شاعر هم و. شعرونه، ترانې او له معنى ډک نظمونه يې ليکل. د برشت شعر او شاعري درې دورې لري، خو تر ټولو ښکلي عاشقانه او غنايي شعرونه يې په لومړۍ دورې پورې اړه لري. د شاعرۍ لومړۍ دوره يې له ۱۹۱۳ز کال پيلېږي او تر ۱۹۲٦ز کال پورې ادامه لري. د شاعرۍ دويمه دوره يې له ۱۹۲٦ز پيلېږي او تر ۱۹۴۸ ز کال پورې ادامه لري. په دې وخت کې د بې عدالتۍ پر وړاندې د مبارزې او د يوه ارماني ښار د جوړولو لپاره شعرونه ليکي او همدا فکر پالي. په دې وخت کې يې په شاعرۍ کې يو انقلابي حرکت ليدل کېږي چې د فاشيزم او نازيزم پر وړاندې ولاړ دی او په خپلو شاعرانه کلماتو پر دغو مفکورو ګوزارونه کوي. درېيمه دوره يې بيا تياتر او شعر دی. دا دوره له ۱۹۴۸ز کال پيلېږي.

برشت خلاق او نوښتګر هنرمند و. ده غوښتل چې اثار يې له عامو وګړو سره ژورې اړيکې ولري. هدف يې دا و چې ولسونه په خپلو حقونو پوه شي، د سياسيونو په لوبو کې ډوب نه شي او په خپلو هېوادونو کې په رښتينې مانا ازاد ژوند ولري. هغه له همدې امله په خپلو اثارو کې ابهام نه غوښت، ساده توب او په ساده کلمو د مهمو مسايلو بيان يې د سبک مهمه ځانګړنه ده. هغه غوښتل چې فقر، بې مسيرتوب او د ناخبرۍ رامنځ ته شوى رسم په انساني ټولنو کې نابود کړي. ده به ويل: ((زه له عامو او ساده خلکو سره ژمن يم. له دوى سره تعهد لرم. هغه خولۍ پر سروم چې دوى يې په سروي، شتمن له بېوزلو کرکه کوي، خو زه داسې نه يم، انسان انسان دی، زه هم د دوى په څېر يم)). برشت له جګړې کرکه لرله. د ژوند موده يې د دوو مشهورو نړيوالو جګړو شاهده وه. له همدې امله يې جګړې غندلې او له جګړو يې کرکه وه. دی د نازي فکر سخت مخالف و. په سياسي لحاظ د کمونيزم پلوى و. ده ويل چې دا نظام عامو او بېوزله وګړو ته حقوق ورکوي، خو کله يې چې وليد د المان کمونيستو مشرانو برعکس پر عامو او بېوزلانو د ټوپک خوله ور واړوله، له دوى يې کرکه وکړه او د دوى کړنې يې وغندلې. دی په امريکا کې هم چې کله مېشت و، د عامو وګړو د ژوند او د دوى د وښتابه هڅه يې کوله. دی هلته هم د نازيانو مخالف و. برشت پخپله ليکي چې په امريکا کې يې د نيولو يو لامل هم دا و چې ده نازيان غندل. دی د کمونيزم پيروى و، خو له کمونيستانو بيزار شوى و، ځکه پر ژمنو د عمل پر ځاى يې واک ته مخه کړه او د واک تږي وو. له همدې امله په امريکا کې تر تعقيب لاندې و او امريکايي استخباراتو داسې فکر کاوه چې برشت د کمونيزم لپاره کار کوي؛ خو برشت وايي، ده د مبلمه په توګه په امريکا کې هېڅ وخت سياسي فعاليتونه نه لرل.

د برشت شخصيت يو بل اړخ هم لري او هغه په تياتر کې د يوې نوې لارې او سبک ايجاد دی. موږ وويل چې برشت د تياتر د نورو ليکوالانو په څېر يوازې خلک بوخت نه ساتل؛ بلکې ده له ځان سره يو فکر درلود او هغه فکر د عامو وګړو وېښول وو. ده له همدې امله د روايي تياتر يانې داسې تياتر چې په هغه کې د يوه فکر او يوه بحث تمثيلي روايت کېږي، بنسټ کېښود. وروسته يې د دغه تياتر د تشريح او پياوړتيا لپاره ډېرې مقالې وليکلې. د برشت په وينا، ټولو د ارسطو تقليد کړى دى او د هغو تعريفونو پر اساس روان دي چې ارسطو ورته ټاکلي وو. د ده په خبره، دا بهير تقليدي وو او نوښت پکې نه و. د ده تياتر تر ډېره عقلاني وو. نه يې غوښتل احساستي لوبې وکړي. دی وايي، پخواني تياترونه يوازې د ليدونکو د بوختيا لپاره دي. ټولې ننداړې په دې اساس ليکل کېږي چې ليدونکي احساساتي کړي، دوى له کرکټرونو سره د همدردۍ احساس وکړي، احساسات يې وپارېږي او په پاى کې خالي ذهن او له غمه ډک له تياتر ووځي. هغه به ويل دا هر څه بې معناتوب ته لار پرانيزي، خلک تقليدي ژوند کوي، نو له همدې امله تياتر او ننداره بايد فکر انتقال کړي، ليدونکي ناليدلو ته متوجه کړي، په دوى کې تغير راولي، انساني طبع سمه کړي، ورانۍ او ويجاړۍ ختمې کړي، فکري سموالی راولي، د تياتر په پاى کې ليدونکی له يوې لاس ته راوړنې سره له تياتر ووځي.

برشت د جګړو مخالف وو، هغه جګړې غندلې، هغه په انساني ټولنو کې د رښتينې ازادۍ او رښتينې شتمنۍ غوښتونکی و. دی وايي، موږ ته اوس ځانونه په ظاهري توګه شتمن ښکاري، خو په حقيقت کې زموږ او فقر تر منځ فاصله کمه ده. د ده په خبره، انسانان ځانونه امن ګڼي، جګړې پاى ته رسېدلي بولي، خو د داسې جګړو په درشل کې دي چې نړۍ به نابوده کړي، ښايي دا په دنيا کې هستوګون وروستی نسل وي او جګړې به انساني ټولنې برباد کړي.

تر ډېرو ادبي کارونو وروسته برشت په ۱۹۵٦ز کال کې ناروغ شو. د همدې کال د اګسټ په ۱۴مه نيمه شپه يې زړه تنګ شو، نفس يې په سينه کې قيد شو او د ۵۸ کلونو په عمر ومړ. هغه تر خپل مرګ يو کال مخکې خپلې مېرمنې ته وصيت کړى و، چې بايد په پولادي تابوت کې يې خښ کړي، ځکه نه غواړي هډونه يې چمچې وخوري، د المان فرهنګي بنسټ ته يې هم ويلي وو، چې بايد په ساده قبر کې خښ شي، د هستوګنې له سيمې سره په نږدې هديره کې، پر قبر يې هېڅ ونه ليکل شي او ساده ورته جوړ کړل شي. اوس يې پر قبر يوازې يوه ډبره ولاړه ده او پر ليکلي دي: برتولت برشت.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۹۰،۲۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۱۰٤٥ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۹،۲۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د ژوند لس هغه مهارتونه چې ناویلي پاتې وو

ژباړه: ملیحه ناصري

موږ په ښوونځیو کې د لیکلو، لوستلو او شمېرلو مهارتونه زده کوو. دا مهارتونه هملته نه ختمېږي، بلکې د نورو مهارتونو په لټه وځو. لوړې زده کړې کوو او د ټولنې د یوه غړي په توگه خپله دنده پر ځای کوو، خو ځینې داسې مهارتونه شته چې نه په ښوونځي کې زده کېږي، نه په پوهنتون کې، دا وړتیاوې له ژونده زده کېږي او بېرته ژوند پرې جوړول کېږي. دا مهارتونه په خپل وار سره دومره اړین دي چې هم د بریا لامل کېدی شي او هم د ماتې.

موږ دلته هغه لس وړتیاوې درته لیکلې چې نه په ښوونځي کې در زده کېږي، نه په پوهنتون او نه هم په کار ځای کې.

**۱ –د خپلو محدودیتونو پېژندل**

دا غونډله یا جمله به مو اورېدلې وي (زما هر کار زده دی)، دا له هغو کسانو اورېدل کېږي چې ځانگړی کار یې لا نه وي زده. هېڅ شونې نه ده چې یو کس دې په هر کار کې مهارت او وړتیا ولري. دا ځکه چې هر کار خپله وړتیا غواړي. هغه کس چې لس کاله یې خیاطي کړې وي، په یوه اونۍ کې نشي کولی ډاکټر شي. د یوه انسان وزن چې دوه سوه کیلو وي، په یوه اونۍ کې ځان سلو ته نشي رسولی. موږ باید ځینې محدودیتونه وپېژنو او خپل محدودیتونه درک کړو. انسان نشي کولی تش په خبره هر څه زده کړي.

**۲- د فکر او عمل د تفاوت او جوړجاړي تشخیص**

موږ ډېر داسې کسان پېژنو چې فکر کوي موږ خبره کوو، خو عملي کولی یې نه شو. ښایي موږ هم د همداسې خلکو له ډلې واوسو. زموږ ستراتېژي باید داسې جوړه شي چې فکر او عمل مو سره پخلا وي. موږ باید پر ځینو موضوعاتو ښه فکر وکړو، د شخصي محدودیتونو له فلتره یې وباسو، بیا یې نو عملي کړو. تر ټولو اصلي مهارت دا دی چې د فکر او عمل جوړجاړی او تفاوت وپېژنو. له عمل پرته فکر ارزښت نه لري او له فکر پرته عمل یوه نامالومه پایله لري.

**۳- د بدو سوچونو چټک لرې کول**

د ست گودین په نامه نامتو لیکوال په خپل کتاب linchpin کې وایي: «یوازینۍ لاره چې وړ او مبتکر کسان کولی شي په خپل ژوند کې بریالي شي، د بدو فکرونو له منځه وړل دي. د دې پر ځای چې پر دوولسو فکرونو او پلانونو تمرکز وکړئ او یو هم ونه شی کړی، ښه به وي چې پر یوه یا دوو مفکورو تمرکز وکړئ او عملي یې کړئ.»

ښاغلی سټیو جابز وایي: «زه مې پر هغو کړنو چې کړې مې دي او پر هغو چې نه مې دي کړې، یو رقم ویاړم. پر یوه غوره فکر تمرکز په دې مانا چې نورو زرو ښو مفکورو ته مو نه وویل. یانې ډېر په ځیر سره د دغو فکرونو له مینځه خپله غوره مفکوره رابېله کړئ. ابتکار یانې زرو نورو شیانو ته نه ویل».

**۴- پر کړنلاره او موخه دې تمرکز وکړه**

زموږ دا ننۍ جوړښت داسې دی چې چټک په پایلو پسې روان یو. دې فکر له موږ سره مرسته هم کړې، لکه تر لوړې مخکې د خوړو چمتو کول او تر یخنۍ دمخه د سون توکو اماده کول. که موخه ونه لری، نو کړنلاره څنگه برابروئ. هرومرو باید یوه موخه وټاکئ او هغې ته د رسېدو لاره مالومه کړئ. هر وخت مو د خپل پرمختگ کچه مالوموی او دا ځان ته جوته کړئ چې تر پخوا مو څومره لاسته راوړنې لرلېې دي، په دې اړه پایله هم وسنجوئ. که یو شي مو په درد نه خوړل، خپل ماغزه او وړتیا مه پرې مصرفوئ. د هغې پر ځای پر داسې څیز تمرکز وکړئ چې گټه درته ولري.»

**۵- تل په حللاره پسې گرځه**

مارک منسون وایي: «ژوند کمپیوټري لوبه ده او تاسو یې مرکزي کرکټر. په دې لوبه کې بېلابېل پړاوونه راځي.» د نړۍ ټول خلک یو ډول موخه لرلی شي، خو داستانونه یې توپیر سره لري. لکه ډېر کسان غواړي انجنیران شي، خو لارې او د ژوند کیسې یې توپیر سره کوي. ژوند داسې طراحي شوی:

یو – ژوند داسې طراحي شوی چې پرله پسې ستونزې او ربړې ستاسو تر مخې ږدي.

دوه – لوبغاړي د ستونزو پر وړاندې دوه شیان کارولی شي :

یو – حللاره

دوه – اندېښنه

درې – هر یو مو چې ډېر وکاراوه، هومره درته اتومات او اسانه کېږي.

څلور – حللارې ژر کولی شي تاسو بل پړاو ته بوځي.

تر ټولو اصلي مهارت او وړتیا دا ده چې حللارو پسې لاړ شو، نه اندېښنو پسې.

**٦- یو بریالی چاپېریال ځان ته برابر کړه**

یو لېوه چې د سپیو منځ کې لوی شي، کړنې یې ډېری سپیو ته ورته وي، نه ذاتي جوړښت ته یې. باید په یاد ولرو چې چاپېریال د یوه کس اخلاق، عقیدې او کړنې ټاکلی شي. د هغه کړنې د هغو شیانو منعکسوونکې وي چې دننه په ده کې دي. زموږ ډېری ستونزې د هغه چاپېریال زېږنده وي چې پخپله مو ځان ته برابر کړی دی. تر ټولو ښه وړتیا د سم او بریالي چاپېریال برابرول دي.

**۷- څه ډول چې دي هغسې یو څیز ته وگورو، نه هغسې چې نه دي**

زموږ ذهنونه هره ورځ داسې کیسې راته جوړوي چې د نورو خبرو تش ځای را ډکوي. د بېلگې په ډول، موږ فکر کوو چې خاوند/ مېرمن مو موږ ته خیانت کوي؛ ځکه چې مسېج یې لا نه دی راځواب کړی. موږ فکر کوو چې رییس خو غوسه شو، نو باسي مو. موږ فکر کوو لاړو غرق شوو، ځکه چې دندې ځواب کړو. باید پر خپل ذهن برلاسي واوسو. څه چې دي هغو ته وگورو. نه هغو ته چې نشته.

**۸- له ځانه سختې پوښتنې وکړه**

انتوني رابینز وایي: «زموږ د ژوند کیفیت هغه پوښتنې ټاکي چې موږ یې پوښتو. بریالي کسان معمولاً داسې سختې او هېښنده پوښتنې کوي، یا له بل یا له ځانه. داسې پوښتنې چې ان کېدی شي نورو ته ملنډې ښکاره شي. دا کسان د همدغو پوښتنو په ځواب پسې گرځي او له بېلابېلو زاویو ورته گوري.

**۹- د گیلاس نیمه تشه برخه مو هېره نه شي**

مثبت اندي د ژوند ستر مهارت او وړتیا ده. بریالي کسان تل د گیلاس تشه او ډکه برخهویني. د ډکې برخې لپاره شکر باسي او د تشې د ډکولو هڅه کوي. مانا موږ خپل کمښتونه او نیمگړتیاوې وینو، خو لاس تر زنې باید نه شو، لاس پکار شو او هغه څه چې لرو، پر هغو کبر نه؛ بلکې شکر وباسو چې شته.

**۱۰- نورو ته ارزښت ورکول**

نورو کسانو ته ارزښت ورکول پرته له دې چې باالمقابل کومه تمه ولرو، دا د ژوند بله وړتیا او مهارت دی. مانا که ملگرتیا کوو، ښه پاکه یې وکړو، نه موخنه ملگرتیا. دې نړۍ کې دوه ډوله انسانان شته؛ یو هغوی چې تل نورو سره د مرستې په فکر وي. دویم هغه کسان چې یوازې جیب ډکول غواړي. لومړی ډله خلک تل پرته له کوم بدیله مرستې او سربښندنې کوي. دویمه ډله کسان هر چېرته خپله گټه لټوي. دواړه بریالي کېدی شي، خو نیت اخر نه اخر مالومېږي. په پای کې هغه کس چې تل پرته له تمې مرستې کوي، په ټولو منل کېږي او نور کسان هم تل ده سره مرستو ته چمتو وي.

## د سولې وزارت: د حکومت د مرکچي پلاوي څلور غړي له دوحې څخه بېرته خپل هېواد ته راغلي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د افغان حکومت مرکچي پلاوي څلور غړي سید سادات منصور نادري، فوزیه کوفي، حکیم الله نقیبي او متین بېگ د شخصي ستونزو له امله د لنډې مودې لپاره افغانستان ته راغلي دي.

د دغه وزارت سلاکار عزیز الله فضلي رسنیو ته ویلي، چې د سولې د مرکچي پلاوي راغلي غړي د خپلو شخصي او کاري ستونزو له امله افغانستان ته راغلي او ممکن د څو ورځو په تېرېدو سره بېرته قطر ته ستانه شي.

فضلي ویلي: «څلور کسه، ښاغلی نقیبي هم راستون شوی دی، متین بېگ په تخار کې د وروستیو پېښو له امله چې د دوی ځینې دوستان پکې زیانمن شوي، د هغو لپاره راغلی دی، د اغلې کوفي د راتگ لامل په هکله معلومات نه لرم او د سولې په چارو کې د دولت وزارت مشر سید سادات منصور نادري ممکن د وزارت نیمگړو کارونو د بشپړولو لپاره راغلی وي.»

نوموړی زیاتوي، د افغان حکومت مرکچي پلاوي ترڅنگ په افغانستان کې د وروستیو جگړو له امله د طالب جنگیالیو هغه خپلوان چې په مذاکراتو کې وو، هغوی هم رخصتي کړې ده.

خو په قطر کې د طالبانو د فرهنگي کمېسیون مرستیال احمدالله وثیق د فضلي دا خبره ردوي او وایي، چې د دوی له لوري هېڅ یو غړی هم خپل کور ته نه دی تللی. په ورته وخت کې د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا غړی دین محمد هم د افغان حکومت مرکچي پلاوي د راتگ خبره تاییدوي، خو نوموړی وایي، د دې څلورو غړو راتگ د بین الافغاني خبرو پر بهیر اغېز نه لري، ځکه چې اصلي خبرې لا هم په قطر کې د خبرو بهیر پر مخ بیایي.

هغه زیاته کړې: «خبرو ته زیان نه رسوي؛ ځکه هلته په بنسټیز توگه نادر نادري، ستانکزی صېب خبرې کوي، دا خلک یو څه نور کسان دي چې هغوی په مذاکراتو کې اغېز لري، دا خلک چې راغلي زه یقین لرم چې پر مذاکراتو به خاص تاثیر و نه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې نږدې دوې میاشتې وړاندې د افغان حکومت مرکچي پلاوی قطر ته له طالبانو سره د بین الافغاني خبرو د پیل په موخه ولاړ، خو لا تر اوسه د دواړو لوریو ترمنځ د مذاکراتو پر لومړنیو خبرو هوکړه نه ده شوې.

## پوتین: له افغانستانه د امریکایي پوځیانو وتل به په سیمه کې گواښونه رامنځته کړي

د روسیې ولسمشر ولادیمیرپوتین ویلي چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شتون د سیمې د امنیت په گټه دی او وتل به یې خطرونه رامنځته کړي.

د راپورونو له مخې، پوتین دغه څرگندونې له یوې روسي رسنۍ سره په تازه مرکه کې کړې او ویلي یې دي چې مسکو په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د شتون پلوی و او د امنیت شورا پرېکړهلیک ته یې په دې اړه مثبته رایه ورکړې ده.

پوتین زیاته کړې، لا هم پر دې باور دی چې په افغانستان کې د امریکا شتون د مسکو له بهرنیو گټو سره په ټکر کې نه دی. هغه ویلي: «امریکا چې له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو لپاره چمتووالی وښود، زموږ رسمي دریځ دا و چې دغه اقدام به د پخلاینې لپاره شرایط برابر کړي، خو زه شخصاً فکر کوم چې دا وتل به ډېر خطرونه رامنځته کړي.»

د یادونې ده، له دې مخکې چین او پاکستان هم ویلي چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه باید مسوولانه ووځي، څو دلته امنیتي خلا رامنځته نه شي.

پوتین دا څرگندونې په داسې حال کې کړې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې د تړون له مخې، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو لړۍ پیل شوې او تر اوسه شاوخوا اووه زره امریکایي سرتېري وتلي دي. دغه راز د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دې وروستیو کې وویل چې تر راتلونکې کرېمېس پورې به خپل ټول پوځیان له افغانستانه وباسي، خو د نوموړي له څرگندونو سره همماله د امریکا دفاع وزارت یوه لوړپوړي چارواکي وویل چې په افغانستان کې یې د سرتېرو پاتې کېدل په هغه هېواد کې په امنیتي وضعیت پورې تړلي دي.

بلخوا د ناټو سرمنشي هم څو ورځې مخکې د دغه سازمان د دفاع وزیرانو غونډه کې ټینگار وکړ چې له افغانستانه د دغه سازمان د ځواکونو وتل د افغانستان له شرایطو سره تړاو لري. د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ دغه راز زیاته کړه چې افغانستان ته له امریکا سره یوځای تللي او په گډه به له دغه هېواده بېرته راوځي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم شپږمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۷مه |۶۱۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ۵ | ۵ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٤ | لمر ختل ۰٦:۰۷ | ماسپښين ۱۱:۳۸ | مازيگر ۰۲:٤۳ | ماښام ۰۵:۰۸ | ماخوستن ۰٦:۳۲

## نړۍ




## اردوغان: ترکان له دې وروسته فرانسوي تولیدات نه شي پېرلی



د اسلام پیغمبر ته د منسوب کارتون په اړه د فرانسې د ولسمشر امانویل مکرون د څرګندونو په غبرګون کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردغان له خپلو خلکو غوښتې چې د فرانسې تولیدات ونه پېري.

اردوغان تر دې وړاندې د شنبې په ورځ ویلي وو چې امانویل مکرون باید رواني ډاکټر ته ولاړ شي. فرانسې له دغو څرګندونو وروسته له ترکیې څخه خپل سفیر ور وغوښت.

د فرانسې ولسمشر د تاریخ د یو ښوونکي له وژلو وروسته اسلامپالان غندلي وو او د اسلام پیغمبر ته د منسوب کارتون د خپرېدو ننګه یې کړې وه. دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ په فرانسه کې د تاریخ یو ښوونکی له هغه وروسته ووژل شو چې په ټولګي کې یې د اسلام پیغمبر ته منسوب یو کارتون د بیان ازادۍ په بحث کې وښوده.

دې چارې د اسلامي نړۍ د یو شمېر نورو هېوادونو غبرګونونه هم راپارولي دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مکرون د څرګندونو په اړه په اسلام اباد کې د فرانسې سفیر وربللی دی. د پاکستان لومړي وزیر د فېسبوک پر شبکې غږ کړی چې د اسلام ضد پارووکي مسایل بند کړي.

په همدې حال کې په قطر، اردن او کویټ کې په یو شمېر مارکېټونو کې د فرانسې محصولات لرې شوي او په یو شمېر نورو هېوادونو کې هم غوښتنه شوې چې د فرانسې تولیدات وانه خیستل شي. په سوریه او لیبیا کې بیا خلکو د مکرون پر ضد لاریونونه کړي او د هغه تصویرونه یې سوځولي دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۴۳ نیم میلیونو ته رسېدلي

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۳ میلیونه او ۴۶۹ زره او ۷۹۲ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۱۶۰ زره او ٦۷۷ کسان مړه شوي او له نږدې ۳۲ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۸۹۳ زره او ۷۳۷ ته رسېدلي او ۲۳۰ زره او ۵۲۳ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اووه میلیونه او ۹۱۳ زره او ۲٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۳۹۴ زره او ۱۲۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۵۳۱ زره او ۲۲۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۱۳۸ زره او ۵۰۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## عمران خان: تلاش می کنیم تا در افغانستان خشونت ها کاهش یابد و آتش به وجود بیاید



عمران خان نخست وزیر پاکستان در نشست دو روزه مجمع تجاری و سرمایه گذاری افغانستان- پاکستان گفت که همه بخش‌های امنیتی این کشور در تلاش کاهش خشونت ها و تأمین آتش بس در افغانستان اند. آقای خان گفت که در چهل سال جنگ افغانستان پاکستان بیشتر از هر کشور دیگری آسیب دیده است و از همین رو اردو و استخبارات پاکستان تلاش می ورزند تا خشونت ها در افغانستان کاهش یابند و آتش بس در این کشور برقرار شود.


آقای خان گفت: «ما می بینیم که در افغانستان هر روز مردم شهید می شوند. ما با دیدن آن ناراحت می شویم. به شما اطمینان می دهم که ما به گونه کامل تلاش می کنیم، حکومت ما، ارتش ما، نهاد استخباراتی ما، همه تلاش نهایی شان را می کنند تا به گونه یی در افغانستان خشونت ها کم شوند، آتش بس شود، و ثبات بیاید.»

نخست وزیر پاکستان حاضر شدن طالبان را به روی میز گفتگوهای صلح نتیجه کوشش‌های اسلام آباد می‌داند. او افزود که هنوزهم یک نگرانی در پاکستان این است که منمکن است هند افغانستان را در برابر پاکستان استفاده کند.

آقای خان گفت: «یک نگرانی در پاکستان است که هند افغانستان را در برابر ما استفاده کند تا در کشور ما بی ثباتی را ایجاد کند. اما ما فیصله کرده ایم که هرچیزی که مردم افغانستان می خواهند ما از آن حمایت خواهیم کرد، ما با آنان روابط خود را بهتر می سازیم به خاطری که آینده این منطقه، در روابط افغانستان و پاکستان، و در همکاری و تجارت است.»


## ژوند

## لینوو کمپنۍ نوی لپټاپ معرفي کړ



لینوو کمپنۍ تېر کال د مي په میاشت کې د قاتېدونکې مخپاڼې لرونکي لپټاپ ازمېښتې بڼه وړاندې کړه او سږکال د جنوري په میاشت کې یې د لاس وېګاس په سي اي اېس غونډه کې اعلان وکړ، چې دغه لپټاپ به د ۲۰۲۰ کال په نیمایي کې خرڅلاو ته وړاندې شي؛ خو د کرونا وایرس نړیوالې وبا له امله د دغه لپټاپ خرڅلاو وځنډول شو او اوس لېنوو کمپنۍ اعلان وکړ چې کاروونکي دغه لپټاپ د پرې اډر له لارې پېربدلی شي. د لېنوو کمپنۍ دغه قاتېدونکي مخپاڼه لرونکی لپټاپ تېنک پډ اېکس۱ فولډ (Fold ThinkPad X1) نومول شوی دی. دغه لپټاپ ۱۳,۳ انچه قاتېدونکي مخپاڼه لري چې تر قاتېدو وروسته په دوه ۹,٦ انچه مخپاڼو بدلېږي. تر قاتېدو وروسته اېکس۱ فولډ په یو ټبلېټ بدلېږي، چې کاروونکي په کې خپل مختلف کارونه او فعالیتونه تر سره کولی شي. د دغه لپټاپ بیه ۲۴۹۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## خواږه مشروبات مو روغتیا ګواښلی شي



وېرجېنیا ټېک د هغو مشروباتو د روغتیایي اغېز په اړه چې خلک یې څښل خوښوي، څېړنه کړې ده. د دې څېړنې په پایله کې څېړونکو موندلې چې د دغو مشروباتو څښلو کې لږه اندازه کمی هم د پام وړ روغتیایي ګټې لري. دغې څېړنې وښودله چې هغه اضافي کالوري چې د دغو خوږو مشروباتو د څښلو له امله اخیستل کېږي، انسان د شکرې او چاغوالي له لوړ خطر سره مخ کوي. که په ورځني ډول د دغو مشروباتو څښلو کې یوه پیاله کمی راشي، دا به د اضافي بورې له امله د اخیستل کېدونکي کالورۍ اندازه ټیټه کړي. په ۲۰۱۵ کال کې د امریکایانو لپاره د خوړو د رژیم پر بنسټ، خواږه مشروبات باید د ورځنۍ کالورۍ ۱۰٪ یا تر دې لږه برخه وي، خو اکثره خلک یې تر دې څو چنده ډېر څښي. اوبه، سبزیجات او میوه هغه څه دي چې انسان له هر ډول ناروغۍ څخه ژغورلی شي. له همدې امله که غواړئ پر شکرې ناروغۍ اخته نشی، یا وزن مو ډېر نشي، نو د خوږو مشروباتو پر ځای ګټور او صحي خواږه کارول مو عادت وګرځوئ.

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی ستېتمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515